Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

## د فنلینډ د کډوالو خدمتونه به 1 سپتمبر 2019 څخه د پناه غوښتونکو د کار حق سند صادر کړي

له 1 سپتمبر 2019 څخه وروسته، استخداموونکي د پناه غوښتونکی د کار کولو حق اړوند د فنلیډ د کډوالو خدمتونو څخه د سند غوښتنه کولی شي. د فنلیډ د کډوالو خدمتونه به پناه غوښتونکی ته سند استوي، کوم چې دغه سند خپل استخدام کوونکی ته وړاندې کولی شي.

دغه بدلون په تعقیب، د استخداموونکی د تیلیفون خدمتونه به 30 سپتمبر 2019 څخه پای ته ورسول شي.

خپله پناه غوښتونکی هم د خپل کار کولو د حق سند غوښتنه کولی شي. دغي موخې لپاره باید ځانګړی فیس تادیه شي.

## استخداموونکی د پناه غوښتونکی د کار حق څنګه کتلی شي؟

استخداموونکي د قانون پر بنسټ اړ دي چې خپلو کارکوونکو د کار کولو حق څخه ډاډه شي. استخداموونکی له کارکوونکی څخه دغه سند غوښتلو سره یې تاییدولی شي. استخداموونکی د پناه غوښتونکی د کار کولو د حق هغه سند چې لګښت پرې راځي غوښتنه هم کولی شي.

## د پناه غوښتونکی د کار کولو د حق سند څنګه ترلاسه کولی شو

1. 20 یورو د پروسي پیسي ورکړئ. د غوښتني پر مهال باید د دغي تادیې رسید له ځان سره ولرئ. د تادیې تفصیلات د غوښتني فورمي کې ورکړل شوي.
2. دغه فورمه ډکه کړئ: [د فنلینډ د کډوالو خدمتونو څخه د کار کولو د حق د سند غوښتنه](#).
3. دغه فورمه او د تادیه شوی فیس رسید د بریښنالیک له لاري migri@migri.fi ته واستوئ. تاسي خپله فورمه همداراز د پوست له لاري پوست بکس شمیره FI-00086 ,10 د فنلینډ د کډوالو خدمتونو ته استولی شئ.

## یو پناه غوښتونکی خپل د کار کولو حق اړوند معلومات څنګه ترلاسه کولی شي؟

- د غوښتنلیک پروسه کې، پناه غوښتونکو ته یوه رساله «د کار کولو حق اړوند معلومات» ورکول کیږي، کوم چې هغوی ته وایي چې د کار کولو حق یې کله پیلیږي.
- د پناه غوښتونکی د کار کولو حق د نوموړی د پناه غوښتني اړوند پریکړې او د نوموړی د استوګني د جواز په کارت کې هم ښودل شوی دی.
- پناه غوښتونکی خپله هم د ټاکل شوی لګښت په بدل کې خپل د کار کولو حق اړوند سند غوښتنه کولی شي.
- د کار کولو حق اړوند نورو معلوماتو لپاره، [migri.fi/en/asylum-seeker-s-right-to-work](https://migri.fi/en/asylum-seeker-s-right-to-work) څخه لیدنه وکړئ.

**یو پناه غوښتونکی کله د کار اجازه لري؟**

یو پناه غوښتونکی فنلینډ کې د پناه غوښتنې څخه درې یا شپږ میاشتې وروسته د معاش په بدل کې دنده ترلاسه کولی شي.

که چیرې پناه غوښتونکی چارواکو ته د اعتبار وړ پاسپورټ یا د سفر نور اسناد وړاندې کړی وي، او تایید شوي وي چې اصلي دي، د انتظار موده به درې میاشتې وي. که پناه غوښتونکی د سفر اسناد نه وي وړاندې کړی، د انتظار موده به شپږ میاشتې وي.

د پناه غوښتونکی د کار کولو حق کله چې د نوموړی د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد شي فسخه کېږي، د مثال په توګه کله چې پناه غوښتونکی له هېواد څخه وشړل شي، یا کله چې پرېکړه قانوني زور ته اړتیا ولري او د استیناف غوښتنه یې نور امکان ونه لري.

که د پناه غوښتونکی اړوند کومه پرېکړه 1 جون 2019 څخه وړاندې تطبیق شي، د پناه غوښتونکی د کار کولو حق به هغه مهال چې پرېکړه قانوني زور وغواړي به فسخه شي. که پرېکړه 1 جون 2019 څخه وړاندې د تطبیق وړ نه وي، د پناه غوښتونکی د کار کولو حق به هغه مهال چې پرېکړه د تطبیق وړ شي فسخه شي.